مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

شهسوار سنګروال ۲۰۱۹/۰۷/۱۶

# د کې، جي، بي يو غړی

## د سرطان شپږویشتمي«۲۶» کودتا ته،

### د شک په سترګه ګوري!؟

د سرطان د (۲۶) نېټې کودتا په تړاو ډول ډول انګېرنې تر غوږو شوېدي. يو شمېر کسان انګېري، چې پدې کودتا کې د شوروي اتحاد لاس وو. ان تر دې ويل کېږي، چې ګنې له کودتا نه يوه اونۍ د مخه د سلو په شاوخوا کې روسي ټانکستان کابل ته راغلي ول.

ولې ځنې بيا په دې اند دي، چې « د جولای اولسمې (۱۷ـ ۷ـ ۱۹۷۳) نېټې کودتا کې شوروي اتحاد ونډه نه درلوده. دا يو افغاني خوځښت وه. ولې دا بايد ومنو، چې يو شمېر کمونستانو پدغه تحرک کې برخه درلوده.» [1]

انتوني هی من د محمد داود کودتا په تړاو داسې کښلي دي:

« د افغانستان خلکو يو ځواکمن دولت غوښته او پدې اند وه، چې محمد داود د داسې دولت د تشکيل وړتيا لري. محمد ظاهر شاه چې د سترګې[2] د درملنې لپاره اروپا ته تللی وه، داود خان د پوځي ځواک پر مټ د جولای په (۱۷) نېټې (۱۹۷۳ ز کال) واک ته ورسېد.

ده په خپله وينا کې وويل: له يوه کال نه په ډېره موده کې د کودتا په تړاو ما له خپلو ملګرو سره خبرې کولې، خو کله چې حکومت پر ملي ضد عملونو لاسپورې کړ موږ دېته ژمن شو، چې خپله پرېکړه عملي کړو.

داود خان پخپلو خبرو کې د « ملګرو» کلمه وکاروله. لويديزو مطبوعاتو داسې وانګېرله، چې د کابل کودتا د شوروي اتحاد په سپارښتنه شوېده.»[3]

محمد داود چې په کومه شپه د کودتا کولو پرېکړه کړې وه. نو په همدې مازديګر يې خپل ياور باز محمد خان منګل ته وويل: « نن شپه کورته مه ځه، يوازې دومره لاړ شه، چې رخصت واخلې او بېرته ژر راشې.» [4]

نوموړي د ده خبره ځمکې ته ونه غورځوله، د کور په پلمه لاړ ولې د ابن سينا په روغتون کې د يوه ناروغ پوښتنه وکړه ډېر ژر بېرته راستــون شــو.

خو دا چې حسن شرق ليکلي دي، چې محمد داود خان له خپل زوی «ويس» سره زما کور ته راغی او ګنې د کودتا په اړه يې انديښنه درلوده، چې آيا نن شپه به پاخون وشي؟ دا ډول څرګندونې د تامل وړ دي. دا ځکه چې د محمد داود ياور ويلي دي، چې زه د سرطان په (۲۵) نېټه د سهار اته بجې د سردار صاحب په حضور کې وم تر هغې، چې د سرطان په (۲۶) نېټه د سهار په اته بجې د خپلې وينا لپاره راديو افغانستان ته لاړ.

د کودتا د شپې کيسه له بلې د ارګ تر مانۍ کتاب کې د باز محمد منګل له خولې اورو: « د محمد داود خان د کور دروازه ډېره ورو وټکول شوه، زه ډېر زر ورغلم، دروازه چې مې خلاصه کړه دوه تنه د دروازې شاته ولاړ وو، له روغبړ نه وروسته يې وويل:

زه پاچا ګل وفادار يم او هغه بل وويل: زه عبدالحميد محتاط، راغلي يو چې دلته مخابره ځای پر ځای کړو.

محمد داود خان د دروازې شاته ولاړ وه، اشاره يې وکړه، چې دروازه خلاصه کړه.» [5]

ولې بهرنۍ سرچينې په سر کې روسي تاريخپوهان او څېړونکي د محمد داود د کودتا په اړه د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند په ځانګړي ډول د پرچم د ډلې رول ته اشاره کړې، چې حسن شرق د محمد داود او ببرک کارمل په دوستۍ او نږدې کولو کې مهم رول درلود.

د کې- جي- بي (K_G_B) يو غړی الکساندر ماروزوف «**Alexander Marozof**» چې په کابل کې (۱۹۷۵-۱۹۷۹ ز کالو) د شوروي استازي وو (د کې- جي- بي مرستيال مدير) پدې ټينګار کوي، چې « نږدې ټولو پرچميانو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په تېره هغو کسانو، چي د محمد داود په کابينه او مرکزي کمېټي کي غړيتوب درلود شوروي استخباراتو ته وخت په وخت اطلاعات ورکول.» [6]
د انتوني هی من «Anthony Hyman» له څرګندونو نه هم ښکاري، چي «محمد داود په ټولنيزو رغاونو کي له ډېر احتياط نه کار اخست. سره د دي، چي پرچميانو او خلقيانو له ده سره په کودتا کي مرسته کړې وه، ولي بيا هم له ده سره يي «مکارانه» عمل کاوه... پداسي حال کي، چي يوسلو شپېته (۱۶۰) تنه پرچميان په موهمو دندو ګمارل شوي ول.»[7]
دويمه خبره، چي انتوني ورته ګوته نيولې ده او د پام وړ يي ګڼي هغه د محمد داود او کارمل تر مينځ شخصي اړيکي وې، چي د ببرک پلار جنرال حسين خان سره يي لرلې. لويي دوپري هم ورته يادونه کړې ده ولي ده هغه ټکي هم را غبرګ کړيدي، چي بيا نوموړي چارواکي له دندو ګوښه شول.
دي کي شک نشته، چي کين اړخو د سرطان د (۲۶)نېټي (۱۳۵۲ ل کال) په کودتا کي برخه لرله. ولي دا خبره لا تر اوسه نده سپينه شوې، چي د شوروي اتحاد ټانکستانو دی په کودتا کي برخه اخستي وي!؟
که څه هم پاچا ګل وفادار، چي ميرمن يي روسی وه او عبدالحميد محتاط دواړه کين اړخي وه، ولي حسن شرق د دوه تنو نورو مرتضی قل او محمد اصف يادونه هم کوي، چي ګڼي يوه تن د مخابرې بکس د محمد داود کورته او بل تن د انضباط په قومندانی کي ضيا مجيد ته وسپاره.
کومه مخابره چي لومړنيو دوه تنو د محمد داود کورته د کودتا لپاره لېږده ولي وه فعاله نشوه. نو ځکه محمد داود خپل ياور ته وويل، چي «عمر» له خوبه را پاڅوه. (عمر د محمد داود زوی وه)
«کله چي ما عمر له خوبه را پاڅوه لومړی ووېرېد، ولي وروسته راغی مخابره يي فعاله کړه. بيا د مخابرې غوږی محمد داود را پورته او وفادار او محتاط ته يي وويل: ځئ لاړ شی خپلي دندې پرمخ بوځی.
محمد داود د کودتا لومړی غږ په (۴۴۴) قطعي وکړ. او د سبا تر پينځو بجو پوري د مخابرې شاته ناست وو... په پای کي ډاډ ورکړ شو، چي د پاچاهي نظام ټول نظامي او ملکي چارواکي ونيول شول.»[8]
دا چي کودتا د شپي په يوه نيمه بجه پيل شوه او څو ساعتو په نتيجه کي د اوو (۷) کسو په مړينه پای ته ورسېده د بري يو ستر لامل يي د پوځي او ملکي چارواکو بې پروايي په ګوته کوي.
د کودتا په شپه (ماښام د جولای ۱۶ــ د سرطان ۲۵نېټه) د دولت موهم چارواکي د عراق د ملي ورځي په مناسبت د هغه هېواد په سفارت کي مېلمانه ول. ورپسي د امريکا د سفير په کور کي د يوه پوځي اتشې په وياړ مېلمستيا وه، چي نوی په دنده ګومارل شوي وه...
پدغو مېلمستياوو کي د هېواد لوړ رتبه چارواکي ان د دفاع وزير خان محمد خان او سردار ولي هم ګډون درلود. د دي خبرې په څنګ کي د محمد داود او د ده د ملګرو د کودتا نظم او دسپلين هم د ډېر پام وړ وو، چي له يوې خوا يي هغه نقطې تر بريد او ګواښ لاندې ونيولې، چي دوئ ترې اندېښنه لرله او له بلې خوا د سيالو ځواکونو د اړيکو پرېکول هم د پام وړ ول، چي هم يي د مخابراتو سستم له کاره وغورځوه او هم يي راديو افغانستان تر خپلي ولکي لاندې راوسته. کودتاچيانو چي په همدغه شپه او يا وروسته د دولت مهم پوځي او ملکي چارواکي ونيول او بيا يي يو د بل پسي بنديان کړل. دغه کسان ول: د سلطنت د مقامه کفيل شهزاده احمد شاه، د مرکزي ځواکونو قومندان سردار عبدالولي، مارشال شاولي خان، د هېواد صدراعظم موسی شفيق، د دفاع وزير خان محمد خان، د هوايي او مدافع هوايي قومندان ګلبهار، د ګارد قومندان غلام محمد، د توپچي د لوا قومندان قمرالدين، د کوماندو قومندان رحمت الله ساپی، د رشخور د فرقې قومندان حکيم کتوازی، د قرغې د فرقې قومندان علي نواز د څلورمي زرهي قومندان شېر محمد، د (۱۵) قوي قومندان حسين خان، د ژاندارم او پليسو قومندان سيد عبدالغني، د پاچا سر ياور محمد عمر خان او نور د ساري په توګه يادلی شو.
کله چي محمد داود د کودتا بری واورېد د سهار د ۷ــ ۸ بجو په مينځ کي بيا راديو افغانستان ته لاړ، چي د خپل بري غږ د هېوادوالو غوږو ته ورسوي.
د ده پدغي راديويي وينا کي کوم ټکي چي ده يي ياودنه وکړه هر چا ته د پام وړ وه.
لومړی خو همدغه د پام وړ وه، چي محمد داود خان د خپل تره زوی محمد ظاهر پروړاندې په يوه پوځي پاڅون لاس پورې کړ، نو ځکه هېوادوالو د ده وينا په غور واورېده او کوم ټکي، چي د ده وينا يي رانغاړلي وه، څو بېلګې يي داسي دي:
زه د اوږد مهال لپاره پدې بوخت وم او په دې لټه کي وم، چي خلکو او وطن ته څرنګه د خدمت جوګه شم؟
ــ د هېواد خلک بايد پرته له کوم توپير او تبعيض نه د هېواد په ابادی او رغاونه کي برخه واخلي.
ــ زه دي ته ژمن شوم، چي هېوادوالو ته په اقتصادي او اجتماعي برخو کي خدمت وکړم نو ځکه مي دغي موخي ته د رسېدلو لپاره پدغه عمل لاسپورې کړ.
ــ د ريښتني موکراسی بنسټ، د خلکو د حقوقو تامين، له فساد نه د دولتي ادارو پاکول او د پښتونستان د قضيې حل... د ده د وينا نور ټکي ول.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ

محمد داود خان له دغې راديويي وينا نه وروسته د مرکزي کمېټې پنوم يو بنسټ د سرطان په ۲۷ نېټې رامينځته کړ، چې غړي يې دغه کسان ول:
د اعلام شوي مرکزي کومېټې رئيس محمد داود.
محمد حسن شرق منشی او غړي يې سيد عبد الاله رسولي، قدير، محتاط، وفادار، فايق، فيض محمد او ضيا وو. دغه تشکيل د افغانستان په تاريخ کې بېساری وو. ځکه چې انګېرنې داسې وې، چې په افغانستان کې يو شمېر کيڼ اړخي ګوندونه د «مرکزي کمېټې» تر سرليک لاندې سياسي فعاليت کوي. همدا راز د شوروي اتحاد په سياسي تشکيل کې هم د « شوروي اتحاد د کمونست ګوند مرکزي کمېټې» پنوم اصطلاح کارول کېده.
له دې ډول اصطلاحاتو او ځرګندونو نه ښي اړخو سياسي ګوندونو د يوې پلمې په توګه د محمد داود پر وړاندې پر ډول ډول غبرګونونو لاس پورې کړ.
د دولت رئيس بيا له کودتا نه دوه اونۍ وروسته د زمري په ۱۱ نېټې خپله کابينه داسې اعلان کړه:

**ـ محمد داود د دولت رئيس، صدراعظم، د باندنيو چارو او د ملي دفاع د وزير په توګه (۷۸-۱۹۷۳)**

**ـ محمد حسن شرق د صدراعظم مرستيال (۷۷-۱۹۷۳)**

**ـ سيد عبد الاله د ماليې وزير (۷۸-۱۹۷۳)**

**ـ عبدالمجيد د عدليې وزير (۷۷-۱۹۷۳)**

**ـ فيض محمد د کورنيو چارو وزير (۷۵-۱۹۷۳)**

**ـ نعمت الله پژواک د ښوونې او روزنې وزير (۷۴-۱۹۷۳)**

**ـ غلام جيلانی باختري د کرنې وزير (۷۵-۱۹۷۳)**

**ـ پاچا ګل وفادار د سرحدونو وزير (۷۵-۱۹۷۳)**

**ـ عبدالقيوم د معدنونو او صنعتونو وزير (۷۸-۱۹۷۷)**

**ـ غوث الدين فايق د فوايد عامې وزير (۷۸-۱۹۷۳)**

**ـ نظرمحمد سکندر د عامې روغتيا وزير (۷۶-۱۹۷۳)**

**ـ عبدالرحيم نوين د اطلاعاتو او کلتور وزير (۷۳)**

**ـ غلام حيدر رسولي د دفاع وزير (۷۸-۱۹۷۷)**

**ـ عبدالقدير نورستانی د کورنيو چارو وزير (۷۸-۱۹۷۵)**

**ـ وفی الله سميعی د عدليه وزير (۱۹۷۷-۷۸)**

**ـ عبدالقيوم وردګ د ښوونې وزير ( ۱۹۷٤-۷۷)**

**ـ محمد ابراهيم مجيد سراج وزير (۷۷-۱۹۷۷)**

**ـ غلام صديق محبی وزير (۷۸-۱۹۷۷)**

**ـ محمد خان جلالر د سوداګرۍ وزير (۷۸-۱۹۷۴)**

**ـ عبدالحميد محتاط د مخابراتو وزير (۷۵-۱۹۷۳)**

**ـ عبدالکريم عطايي وزير (۷۸-۱۹۷۵)**

**ـ عبدالتواب اصفی معادن وزير (۷۸-۱۹۷۵)**

**ـ عزيزالله واصفي کرنې وزير (۷۸-۱۹۷۵)**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**ـ عبدالله عمر د روغتيا وزير(۷۸-۱۹۷۶)**

**ـ علي احمد خرم پلان وزير (۷۷-۱۹۷۴)**

**ـ فيض محمد د قبايلو وزير (۷۷-۱۹۷۵)**

**ـ عبدالقيوم وردګ قبايلو وزير (۷۸-۱۹۷۷)**

**ـ جمعه محمد محمدي د اوبو برښنا وزير (۷۸-۱۹۷۶)**

محمد داود خان سربېره له دې، چي د افغانستان د شاهي نظام پر ځای جمهوري نظام اعلان کړ، بلکي د خپل رژيم تګلاره يې «خطاب به مردم افغانستان» هم په ډله ييزو خپرونو او رسانيو کي خپره کړه.
د دغې تاريخي وينا په تړاو داسي انګېرني شتون لري، چي ګنې د دې متن د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند د پرچم ډلې له خوا ليکل شوی وه.
« حسن شرق د پرچم له مرکزي کمېټې څخه وغوښتل، چي « خلکو ته په خطاب کې» تر سرليک لاندې ليکنه وکړي، چي وروسته يې پخپل نوم محمد داود ته ورکړه، چي د يو دوه درې جملو په بدلون يې له راډيو افغانستان څخه خپره کړه.»[9]
له دې سربېره دې ټکي ته هم اشاره شوې ده، چي « حسن شرق د محمد داود د کودتا په تړاو د پرچم د ډلې له رهبری نه وغوښتل، چي يو شمېر ناپېژندل شوي پوځيان... ور وپېژني... ګوند د يوه ځانګړي مېتود له مخې د کوماندو له قطعې څخه فيض محمد، حسن شرق ته ور وپېژند.»[10]
څومره چي خبره « خلکو ته خطاب » په اړه دی، محمد داود د کودتا مشر د سنبلې د مياشتي د لومړۍ ورځې په وياړ (۱۳۵۲ ل کال) د هېواد د خپلواکۍ په جشن کي خپله ګټوره وينا ( د اګست۲۳ ) چي د هېواد اقتصادي، سياسي او ټولنيزو ارزښتونو ته ځانګړې شوې وه، هېوادوالو ته واوروله، چي د هر چا لپاره په ځانګړي ډول سياست والو ته ډېره د پام وړ وه.
لومړۍ يي د پاچاهي نظام د دموکراسی په لسيزې برید وکړ او هغه يي يوه قلابي دموکراسی وبلله.
ده ژمنه وکړه، چي د ټولني د ژوند په بېلابېلو اړخونو کي به بدلون راولي. د ځوان نسل د سالمي روزني لپاره هڅې، د خلکو د حقوقو برابري، د خلکو ملي آزادي او سياسي حاکميت په رڼا کي د سياسي شعور وده او پرمختګ...
په اقتصادي برخه کي له لاسي ضايع سربېره د صنعت پراختيا، له معدني شتمنيو نه سمه استفاده، سوداګريزو اړيکو ته پراختيا او همدغسي يي د هېواد په بهرنيو اړيکو او سياست هم رڼا واچوله.

**ماخذونه:**


[1]:- غوث عبدالصمد، سقوط افغانستان، ۱۴۲ مخ،

[2]:- د محمد ظاهر شاه سترګه د ملکي له خوا ژوبله شوې وه،

[3]:- هی من انتوني، افغانستان، ۸۶ ـ ۸۷ مخونه،

(Hyman Anthony Afghanistan Under Soviet Domination P: 86 – 87)

[4]:- له بلی د ارګ تر مانۍ، ۴ مخ،

[5]:- همدغه اثر، ۷ مخ،

[6]:- کاکړ محمد حسن، رڼا او دفاع، ۱۶۱ مخ،

[7]:- Afghanistan, under Soviet Domination. P:89

[8]:- له بلی د ارګ تر مانۍ، ۹ مخ،

[9]:- غوربندی عبدالقدوس، نګاهی به تاريخ حزب...، ۳۳ -۳۱ مخونه،

[10]:- همدغه اثر، ۳۰ مخ.





افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ